
زه واده نکوم
عبرت ناکه ناول
لیکوال: انجنیر
تمیم امرخیل
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناول زه واده نکوم

عبرت ناکه کیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څنګه مي دغه ناول وليکه

**دا چي زموږ په هيواد کي کوچني ماشومان ډير وهل کيږي**
**او د مور پلار او د کورنۍ د نورو غړو له خوا ورته په اندکي خبره هم وهل ورکول کيږي**
**چي بيا هغه ماشوم په يو ډول منفي فکرونو کي ځی**
**او د هغه ماشوم په مغزو باندي منفي تأثيرات کوي**

**لکم**

**شايد خپله تاسو هم ليدلي وي کله مو چي د کورني غړي په تاسو باندي وار کوي او يا مو وهي نو تاسو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو ګوښه ځاي ته ځي او هغلته له ځان سره ډير منفي فكرونه كوي

همداسي كله چي يو كوچني ماشوم ووهل شي نو هغه هم خفه شي او اكثريت يي يوازيني ځاي ته ځي او هغلته له ځان سره اكثريت يي دا فكر كوي چي كاش يي دا بيخي مور او پلار نه وه

اكثريت يي په دي فكر كي دي چي څنګه له كور څخه بيرون ته ځان وباسي

چي بيا د عمر په لويدو سره داسي فكر ځان سره كوي چي بايد له كورني څخه په ټټ ډول په قاچاقي لارو وتښتي

چي دا سلسله به تاسو ته معلومه وي چي زموږ د يري ځوانان ورونه چي له كورني څخه په ټټه باندي په قاچاق لارو ځي هغوي هم ځيني يي له همدي وجي

بل په كوچني ماشوم كه چيري په كور كي يا هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ميلمه له مخي وار وكـړل شي

نو د هغه شخصيت ټيټ راځي چي تاسو ته به هم
معلوم وي اكثريت ماشوم چي يوه شوخي وكـړي نو
دا كار ډيري ميندي كوي

په خپل اولاد د شوخي په مقابل كي وار كوي

هي لېږ خو له الله ج څخه وادره شه وه موري

او له هي وروره لېږ خو ته هم له الله ج څخه وډار
شه

ماشوم خو په خپل خير او شر نه پوهيږي

كه پوهيده نو هغه به يا شوخي نكوله او يا به هم
كرار د خپلي مور په څنګ كي كيناسته

نو چي خپل اولاد ښه نشي ساتلي هي خوري هي
وروره درڅخه هيله كوم نړي ته يي مه راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني کورني خو بيا اولاد ته د نورو خلکو په مخکي بيخي اهميت نه ورکوي چي په دي کار سره د اولاد جرأت کميږي

نو هيله کوم دا کار هم مکوي

او ځيني يي چي بيا لوي شي هغوي يي اکثريت د خود کوشي ته هم ځان وړاندي کوي

ډالي دی وي

لر او بر افغانستان او افغانانو ته بيا هغي مور او هغه پلار ته دي ډالي يي چي خپل اولاد سره ډيره مينه لري

او په پاي کي دي زما پيغلو خويندو او ځوانانو ورونو ته دي ډالي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څنګه چي وي مور باید خپل اولاد ته په
ټېټه سترګه ونګورو

باید له ځان څخه یي هم لوړ ونیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مننه له هغي څخه چي زه يي د دي ناول ليکلو ته وهڅولم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد به هر کله چي له ښوونځي څخه راغلو نو
کاکا يي چي اوس يي ناسکه پلار هم وه ورته وويل
هله احمده زويه غوا بوزه باغ ته چي ډيره وګـي ده
احمد بيچاره به هم وګـي تـګـي لاړه د کاکا له
ترسه به يي غوا بيوله
بيا به غرمه يوه بجه چي راغلو نو ايله به يي ډوډۍ
وخوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریف به هم کله کله له احمد سره باغ ته تللو یوه ورځ چي په احمد کار خانګی ډیره وه نو له ځان سره یي باغ ته خپل د دریم ټولګي کتابونه هم یوړل چي کار خانګی ولیکي

دا چي کار خانګی ډیره وه نو د ده هم سر پري ټیټ وه هیڅ یي غوا ته فکر نه وه یو وخت یي چي پام شو ګوري غوا ټنډه یعني له خپل خوارکه اضافه غواړه او بیا د خيټي پړسیدل

شوه نو په بیړه یي خپل تره ته وویل قند اغا وه قند اغا راشه چي غوا ټنډه شوه

کاکا یي چي ولیده نو سخت په غوسه شو احمد بیچاره ته یي ردو بد وویل له خولي یي ورته لاړي هم بادیدلي ډیر ورته په غوسه شو

اخر یي غوا ته پي پي سي ورکړه لږ یي طبیعت راسته شو خو په ښخواني حالت کي نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد چي مازديګـر کورته لاړو نو کاکا يي وويل
چي چيشي دي کول چي غوا ټنده سوه

دي په خواره خوله وويل قند اغا ما درس ليکه غوا
راڅخه هيره وه چي يو وخت مي پام شو هغه ټنډه
په خپل ځاي کي پرته وه

قند اغا ته هم خداي ورکـړه سخت په غوسه شو او
احمد ته يي وويل چي وروسته له دي به ته مکتب ته
نه ځي

مور يي ډير ټينګـار وکـړو چي لاړ به شي يو څه
به ورنه جوړ شي خو قند اغا بيا چيرته منله
اخير بيچاره احمد يي له مکتب څخه هم مهروم
کـړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي نو اوس هره ورځ په باغونو کي غوا ځروي او له کاکا سره د باغ په کارونو کي مرسته کوي بس اوس يي دا کار دي

شريف هم کرار کرار لويده

يوه ورځ چي احمد د ديارلس کالو وه نو کاکا يي ورته وويل چي ته بايد د ايران په طرف سفر وکـړي ځکه هيواد کي کار نشته

دا ده هغه ده همدا بهاني يي ورته کولي احمد هم خوشحاله وه ځکه چي ده په دي کلي کي ډير سختي له کاکا سره تيرولي

خو مور يي بيا نو سخته خفه وه

مګـر احمد راضي کـړه

خير بلاخره داسي ورځ هم راغله چي احمد له خپلو دريو کيلوالو سره بايد نور د ايران په طرف په سفر تللي وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دي شپه يي نو ټول خپل خپلوان راغلل او دي
سره يي د خداي په اماني وکړه احمد هم خپل بيک
د سفر وتړلو او په وخت بيده شو ځکه چي سبا
سهار وختي به د سرويس يا يو ډول پخواني موټر

راتللو او چي څوک به کابل يا بل لري ځاي په
طرف تلل نو په دغه موټر کي به يي وړل

کله چي سهار شو نو دوي هم تياري ونيولو دا چي
دي دريواړو ملګرو خداي په اماني ته خپلوان
راغلي وه نو ټولو په خپلو کورونو کي شپي
وکړي او سهار يو ځاي شول

په ټولو کي د احمد مور ډيري اوښکي تويي
کړلي

احمد هم خفه وه خو چي د سترګو په کيمره کي به
يي د کاکا ظلمونه تير شول بيابه خوشحاله شو په
زړه کي به يي ويل چي شکر له يوه ظلم نه خو
خلاص شومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وخت هم راورسیده چي دوي سفر وکـړي
له کور نه هر یو یوازي ووتلو
هر یوه سره تر مرکز د ولایت پوري پلار هم لاړو
احمد او ذبیر په سرو سترګـو لاړل ځکه د دوي لومړي وار وه چي مسافر کیدل

دوي چي کله جدا شول له خپلو پلرونو نو تصمیم یي دا وه چي اول به ځانته په دوکان کي خوراکي توکي لکه بیسکویت کیک او نور
شیان اخلي بیا به ځي
همداسي یي وکـړل
اوس نو داسي وخت راورسیده چي دوي باید په هغه موټر کي کیني چي نیمروز ته لاړ شي همداسي وشول
دوي نو په دي موټر کي کیناستل
د غرمي مهال وه چي قلات  ته ورسیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غرمه يي دلته تيره کـړه ټولو په مړه خيټه ډوډۍ وخوړه

بيا نو د ماسپښين لمونځ نه وروسته يي يو ځل بيا حرکت وکـړو

د شپي به اته بجي وي چي ايله کندهار ته ورسيدل بيا يي هم په چوک د کندهار کي دمه وکـړه د شپي ډوډۍ يي هم وخوړه او د ماشام قضا شوي لمونځونه يي هم وکـړل بيا يي د شپي لمونځ هم په دغه ځاي کي ادا کـړو وروسته يي يو ځل بيا حرکت وکـړو د نيمروز په لوري

په ټوله لاره کي احمد هيڅ خبره هم ونکـړه چوپه خوله روان وه

د مور او د ورور غم ورسره وه دي دا فکرونو کي وه چي ايا شريف ورور به يي هم درس ووايي او که د ده غونډي به مسافرکيږي

او مور يي بيا هلته د احمد غم کاوه چي څنګـه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

يي چيشي به يي خوړلي وي کله به رسيږی اوس به چيره وي او داسی نور

سبا سهار به يوولس نيمي بجي وي چي دوي نيمروز ته ورسيدل

دلته يي نو دوه ورځي نور هم منتظر کړل ځکه چي قاچاقبر ته نور خلک هم راتلل له دوه ورځو وروسته يي دوي ټول سفر ته اماده کړل ټولو ته يي وويل چي خپل د ضرورت وړ توکي لکه اوبه بيسکويت او داسي نور

ځان سره واخلي ځکه چي بيا په لاره کي نه پيدا کيږي

او نن ماشام اته بجي لخير سره سفر ده

قاچاقبر دري ډلي جوړي کړي هري ډلي ته يي خپل مسؤليت وسپاره

هري ډلي خپل مسؤليت ومنلو دا نو بيا داسي وخت شو چي دي بايد نور خپل سفر ته ادامه ورکړي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد طالعي بيداره وي له خپلو دريوو ملګرو سره په يوه ګروپ کي راغلو

دوي نو سفر شروع کړلو دا چي په دي وخت کي ايران ته ډير کم مسافر تلل نو ځکه خو دومره نيول رد و مرد او يا هم شکنجي دا شيان نه وه لکه اوس چي زموږ نيوي في صده خلک د ايران او ترکي يا نورو هيوادو په طرف ځي او بيا نيول کيږي قيصه بل طرف ته نه وړم لنډه دا چي تاسو ته به اوس د مسافرو حال معلوم وي

احمد دوي په اوله کي يوي پوستي ته مخامخ شول خو بخت يي بيداره وه چي چا ګير نه کړل ځکه د شپي ناوخته وه ټول پوليس بيده ول

دوي په شپږو ورځو کي ايله تهران شار ته ورسيدل

په لومړيو کي دوي څلور واړه ملګري په هيڅ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهيدل نه په قانون د ايران او نه هم په ايراني فارسي

خو د وخت په تيريدو سره بيا بلد شول په دوه مياشتو کي احمد په يوه شيشه خانه کي کار ځانته ونيوه چي پکي بوتلي او پيالي او داسي نور شيشه يي شيان جوړيدل

ډير ښه له خپل کار څخه راضي وه

رئيس هم ورڅخه راضي وه ځکه ده هم په صداقت سره کار کولو

شپي او ورځي تيريد احمد او ملګري يي ډير خوشحاله وه دا مهال خو بيا يي په زړه کي دا غم هم له احمد سره وه چي ايا ورور به يي شريف درس وايي او که د ده غونډي به غوا باغ ته بيايي او راولي

ايا کاکا به يي قند اغا ښه چلند ورسره کوي او که نه مور به يي څنګه وي

او همداسي نوري پوښتني يي هم په ذهن کي تلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راتلي

له څلور کاله مسافري وروسته احمد چي د اوه لس کالو په عمر وه نو دا چي کلي کور يي ډير ياديده نو ځان سره يي تصميم ونيوه چي بايد خپل هيواد ته لاړ شی

دا وخت نو د احمد کمه ګـيره هم په مخ راغلي وه

له ملګـرو سره يي خبره شريکه کـړه هغو نورو دوو خو ويل چي اوس نه ځو ولي احمد او ذبير بيا نو ښه سم اماده وه چي لاړ شي کلي ته ځکه چي دوي دواړه په اول وار مسافران شوي وه دغومره بلد نه وه له مسافري سره

خو بيا هغه خوا نواب او اخلاص بيا ښه سم بلد وه ځکه چي هغو دوو دوه کاله له دوي نه مخکي هم مسافري کـړي وه

بلاخره احمد او ذبير لاړل بازار ته د کورنۍ غړو ته يي بعضي سوغاتونه واخيستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا نو راغلل د خپل تنګ تصمیم یي ونیوه نواب
او اخلاص هم بعضي شیان د خپلو کورونو لپاره
واخیستل او هم یي کورني ته لیک واستولو

احمد دوي له مرز نه هم بي له کوم مزاحمت څخه
تیر شول ځکه چي دوي د مهاجرینو کارتونه لارل

له دري ورځو ځنډ څخه وروسته احمد او ذبیر کور
ته راورسیدل د دوي کور د ننګرهار ولایت په
شنواري ولسوالي کي وه

احمد چي خپلي کوځي ته ورسیده نو له ذبیر څخه
یي د خداي په اماني واخیستله په اوله کي ورته ډیر
ټینګ شو چي زموږ میلمه شه ولي ذبیر بیا کلله
منله ځکه دواړه په دي ورخطا وه چي ژر کور ته
ورسیږی

احمد چي د خپلي کلا دروازه چوله کړه نو ګوري
چي مور یي مریم او خاله یي شازیه په حویلي کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناستي دي په خپلو کي خبري کوي

احمد چي خاله يي مخامخ دروازي ته ناسته وه په خوله يي لاس ورته کيښود چي چُپ شه چي مور خبره نشي ځکه چي احمد غوښتل چي مور يي حيرانه شي

احمد هم بوټونه وويستل په يبله پښو باندي د مور تر شاه غلي غلي ورغلو او دمور يي سترګي کلکي پټي کړي مور يي وويل چي شهناز لوري پريږده سترګي مي خو کوم اواز يي وانه وريده

خور يي شازيه ورته وويل خور هغه هلک ده جيلي نده

احمد هم نور نو نه ټينګيده مور يي په مخ ښکل کړه او بيا يي چي دمور سترګي خوشي کړلي

دمور يي چي په احمد زوي سترګي ولګيدي بي اختياره يي اوښکي تويي کړلي احمد مور او مور هم احمد په غيږ کي کلک ونيول

شازيه له هغي خوا غږ کړل خوري موږ ته خو يي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم پریږده چي موږ خو هم ورسره ستړی مشی وکړو دوي دري واړو د خوشحالي ډيري اوښکي تويي کړلي ډير خوښ هم وه

بيا نو د احمد ټول خپل خپلوان هم راټول شول لکه ماما ,کاکا , عمه او خاله دوي ټول خوشحاله وه خو په دي کور کي احمد ته يو هلک او يوه جيلي بيخي نابلده ښکاريدل چي جيني د شهناز نوم اخيستي وه او هلک هم د محمد نوم |

دومره يي سر پسي ونه خوږ اوه

اوس نو قند اغا هم کور ته راغللو دي نو د احمد په ليدلو هيڅ خوښ نشو ځکه چي احمد اوس رالوي شوي وه په دي هم ښه پوهيده چي که له خپل کاکا څخه د خپل پلار ميراث نه پاتي شوي ځمکي واخلي چي بيا د وخت په تيريدو سره همداسي وشول

ماښام چي ټول ميلمانه لاړل او يوازي د احمد کورني پاتي شوه نو احمد شهناز او محمد ته ګوته ونيوله چي مور جاني دغه دوه خو مي ونه پيژندل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور يي وويل زوي جانه دوي دي خور او ورور دي

احمد يوه خوندوره خندا وکړه بيا يي دواړه په مخ ښکل کړل شريف ته يي وويل چي هغه زما بيک راوړه

شريف ورور يي هم همدي ته انتظار وه او دوه سترګي يي په بيک کي خښي کړي وي چي لالا به يي څه ورته راوړي وي

شريف بي له کوم زنډ څخه بيک راوړلو

احمد يي لومړي خپل کاکا قند اغا ته راوړي سوغات چي پکښي يوه جوړه څپلي يوه پياله او يو جوړه هم جامي وي ورکړل

بيا يي مور ته جامي يوه جوړه بنګړي يا د لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـړي او هم يو څه د ارايش شيان ورکـړل خو بيا د
شريف بخت يو څه خراب شو هغه ځکه چي احمد نه
وه خبر چي شهناز او محمد به په کور کي اضافي
وي نو هغه څه يي چي شريف ته راوړي وه هغه يي
له شهناز محمد او شريف سره تقسيم کـړل

بيا يي هغه پيسی چي په څلورو کلونو کي يي
ګـټلي وي هغه يي نيمايی پـټـی کـړي وي له اول
څخه ځکه چي اينده ته يي فکر پري نيولي وه او
باقي مانده يي چي هر يو ايراني تومن په دغه وخت
کي دري پينځوس افغاني کيدلي د قند اغا مخکي
کيښودلي

د قند اغا هم پيسو ته خوله وړينګـه لاړه

پيسي يي واخيستلي په بکس کي يي کيښودلي او بيا
يي احمد ته د چاپلوسي په خوله داسي وويل زوي
جانه پيسي به دي درته ټولي کمه بيا لخير سره چي
غټ شولي بيا به واده درته وکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد په شونډو کي يوه نري خوږه مسکاه وکـړه په
زړه کي يي وويل چي کاکا جانه زه دي د
ک و ن ي په رګ پوهيږمه

د احمد دوي شپي او ورځي تيريدي ډير خوشحاله
هم وه هره ورځ به بيرون په چکر هم تللو د خپل
ماشومتوب دوري له هلکانو سره چي اوس د ده په
اندازه وه په چکر ورسره تللو

د روخصتي ورځي يي بيخي ژر تيريدي که په
تاسو کي څوک مسافر وي او بيا د کور په طرف په
چکر راغلي وي درته به معلومه وي چي څنګه
ژر تيريږي

احمد نو له ذبير سره په تصميم کي شو چي بايد سبا
ته لاړ شي هغه هم په وخت سره

سبا همداسي وشول دوي نو نوي روان وه چي د
احمد مور غږ پسي وکـړلو زويه ودريږه

احمد او ذبير دواړه ودريدل مور يي احمد ته يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوټه ورکـړه ورته يي وويل هن زويه په دي کي مي کجوري يعني بسراغي درته اچولي دي په لاره کي چي وږي شوي وبه يي خوري

يو ځل بيا احمد له خپلي مور څخه د خداي په اماني واخيستله او مننه يي هم وکـړله خو دا ځل ذبير هم د احمدا د مور لاس ښکل کـړو او د خداي په اماني يي وکـړله

دوي نو يو ځل بيا په سفر شول

ذبير ته د خپل ماشومتوب يادونه په سترګـو کي شول چي کله به يي مور وويل ذبيره زويه دغه کار وکـړه دغه داسي که او هغسي که خو بيا به ذبير نه منله

احمد پوختنه وکـړه چي هي د بي بي ناز زويه بيا په کوم چورت کي لاړلي

دي وويل ياره په هيڅ چورت کي هم نه يم تللي خو ته وګـوره چي دا مور او پلار باندي اولاد څومره ګـران وي ولي بيا چي اولاد ته يوه کيسه وکـړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اولاد يي نه مني

## احمد وويل ځنګه

ذبير وويل ګوره مور مونږ ته يو کار وايي او
موږ يي نه منو بيا ګوره چي اوس په سفر روان يو
نو ستا مور موږ ته کجوري راوړي

احمد وويل چي هو وله داسي خو ده

د دوي مجلس په لاره کي ښه ګرم وه

خو بيا د موټر له غږ سره دواړه خاموشه شول او
موټر ته پورته شول

دوي بيا د پخوا په شان نه وه اوس يي ښه سم ګرم
مجلس شروع کړي وه د کلي ته راتګ او بيا په
کلي کي د چکر وهلو له ډير وخت څخه د خپلوانو د
ليدلو خبري يي وکړلي

په خبرو خبرو کي د کندهار اډه هم راورسيدله چي
له دي ځاي څخه به لويديځ ولايتونو ته موټري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تللي

احمد او ذبير هم د نيمروز په موټرو کي کيناستل

د غرمي دوه بجي وي چي دوي بيا د غزني مرکز ته ورسيدل او دمه يي وکړله

بيا نو همداسي د شپي کندهار او سبا سهار نهه بجي هلمند ته ورسيدل دا چي دوي اوس مهاجر کارت درلوده نو په مرز باندي ښه ډاډه ورغلل

هغلته يي د دوي مهاجر کارتونه وليدل او بيا يي روخصت کړل

دوي نو اوس دي ته په تمه وه چي کله به رسيږي

کله چي تهران شار ته ورسيدل نو هغلته يي په نواب او اخلاص سترګـي ولګـيدي هغوي هم خبر شوي وه چي په دغه ورځ احمد او ذبير به رارسيږي اما په دي نه وه خبر چي څو بجي به راورسيږي کله چي احمد دوي راورسيدل نو د مازديګـر پنځه بجي وي

نواب وويل خوار مشي موږ مو له ډير انتظاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستړي کړو

ذبير وويل دا پريږده زه ډير وګـي يم ته يو څه د خوړلو راواخله

اخلاص بيا وويل راځي ليوانو چي زه مو هوټل ته بوځم

ټولو په يوه خوله وخندل

دوي ټول لاړل په هوټل کي يي ډوډۍ وخوړله بيا يي د مازديګـر لمونځونه ادا کـړل او بيا دم نواب په موټـر کي خپل اطاق ته لاړل

دوي دواړه ډير ستـړي وه خو نواب بيا چي د بر کلي وه نو ډير ټوکي هم وه هيڅ يي خوب ته پري هم نه ښودل د شپي يي تر لسو بجو ټوکي پري وکـړلي بيا يي روخصت کـړل احمد او ذبير بيا د سهار تر يولس بجو ويده وه خو نواب او اخلاص بيا شه په ډاډه زړه وظيفي ته تللي وه

ذبير چي راويښ شو نو سمدستي يي احمد ته يوه لغته ورکش کـړه ورته يي وويل جګ شه د ماګـل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زویه د سهار یولس بجي دي
په کور کي خو دي د قند اغا  له ډاره د ملا له اذان
څخه مخکي ویښیږي
احمد وویل یاره یوه دقیقه خو مي پریږده احمد فکر
کولو چي ذبیر به ټوکي کوي
خو چي ذبیر بیا په احمد یخي اوبه خالي کړلي او
احمد سترګي رڼي کړلي ګوري چي په ریښتیا
هم یولس بجي دي  ذبیر ته په کنځاوو سر شو ورته
یي وویل دا‌غوا زویه وختي به دي پورته کولم کنه
لمونځ دي راباندي قضا کړلو

ذبیر بیا وویل د ماګـل زویه ساده کیږه مه زه هم
اوس ویښ شومه هغه نورو دوو د پیشکي زامنو
ویده پریښي یو

دواړو وخندل د پیشکي د زامنو په ویلو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد پاسیده مخ او لاس یي پرمینځل او بیا ذبیر لاړو د چاي په دم کولو پسي احمد ته یي دنده ورکـړه چي له نانوایي څخه ډوډۍ راوړي

احمد چي ډوډۍ پسي ښکته شو ذبیر په ترموز کي تیار چاي پیدا کـړو دا چاي سهار نواب دوي ته پوخ کـړي وه

دواړو په خندا سره چاي وسکلو او بیا یي په طرف د قدم وهلو دباندي پلي وکـړله

تر دوه بجو پوري یي قدم ووهلو بیا د نواب دوي شرکت ته ورغلل هغلته یي له هغوي سره ډوډۍ نوش جان کـړله بیا یي هغوي هم ځان سره کـړل او د خپل اطاق په طرف راغلل

هر یوه ته یي د خپلي کورنۍ له خوا رالیږل شوي لیک ورکـړلو بیا یي  هغه سوغاتونه چي دوي ته راوړي وه ورکـړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعیت کي چي شي دواړه ډیر خوشحاله شول
دوي هم له احمد ا ذبیر نه مننه وکـړله بیا به نو د تل
په ځیر هره ورځ کار ته تلل ځلور واړه به یو ځاي
کار ته تلل او یو ځاي به راتلل نواب ته یي په
شرکت کي یو موټر هم ورکـړي وه چي دي به
وظیفي ته پکي ځي او راځي

دا هسي په نوم د پنبي شرکت وه ولي په داخل کي به
یي بیا نو د مخدره موادو تجارت روان وه چي نواب
تر اوسه پوري په دغه مسئله نه وه خبر خو ور ور
به بیا ده دغه شرکت نورو کارګـرانو په نواب
سګـرېټ وهل چي بیا یي چرسي هم ځیني جوړل
کـړلو ملګـرو یي احمد دوي ډیر ورته وویل چي
هلکه بد کار دي مه یي کوه خو عمل بیا عمل وي نو
الله دي موږ ورنه وساتي

نواب نو کرار کرار په دي هم خبریده چي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرکت کي اصلا پنبه نه بلکي د مخدره موادو تجارت کيږي کله چي دي خبر شو نو رئيس يي معاش دو چند که ورته نواب هم د پيسو خوند اخيستي وه نو نه يي چاته د خپلي وظيفي ويلي او نه يي دا خبره له خپلو افغاني ملګرو سره شريکوله

هغه خوا بيا اخلاص د دفتر په رئيسي مئين شوي وه د دوي دواړو رنګونه ورځ تر بلي ژيړيدل په نواب خو ټول خبر شول چي عملي شوي ده ولي اخلاص هم ټولو ته وويل چي زه هم مئين شوي يم نا ګفته دي پاتي نشي اخلاص په يوه شرکت کي چي قالين ګنډلو وه سرکاريګر وه

احمد او ذبير خو بيا په شيشه خانه کي کار کولو

نواب اهسته اهسته دي حد ته ورسيده چي نورو ښارونو ته به يي مخدره مواد وړل او اخلاص بيا بي د کورنۍ له اجازي له خپلي رئيسي سره واده وکړلو

وروسته له دري کلونو اخلاص وويل چي زه يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چکر له خپلي کوژدني سره غوارم خپل کلي کور ته لاړ شم د نواب هم زړه وه احمد او ذبير يي په زور سره راځي کړل

خو بلاخره يي يوه پنځه کسيزه ډله چي پکي احمد ,ذبير ,نواب , اخلاص او د اخلاص ميرمن وه جوړه کړه او لاړل خپل هيواد ته

دوي نو په دري ورځو کي کور ته ورسيدل دا وخت يو څه سرکونه هم جوړ شوي وه

دوي نو اوس ښه سم خپل کلي ته رسيدلي وه

هر يو يي خپل کور ته تنها لاړو خو اخلاص بيا نو دوه نفره وه

مور يي لوړي ډيره اخلاص ته خوشحاله شوه خو بيا چي خپله اينګور يي مينا وليدله رنګ يي داسي ژيړ شو لکه ژيړ ګلاب

ټوله کورني يي ذبير ته په غوسه کي وه چي ولي يي بي د دوي له اجازي دا کار کړي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو خير نوره يي خبره غټه نکړله

مګر پلار يي وويل چي بيا په دي دروازه پښه هم رانه نه باسي

ورک دي د پښتنو رواجونه شي چي زوي رالوي کړي بيا د هغه په خوښه ورته ناوي نه کيږي چي دا بيا له بلي ښځي سره په زوره نکاح ته مجبوروي چي د يوي جوړي د خفګان لامل او هم د يوي کورني د خفګان لامل کيږي

او يوه لور په کور کي پيغله کړي هغه هم بيا خپل د زړه کس ته نه ورکوي په بل کس يي په پيسو لکه غوا خرڅوي چي دا کار بيا په يوه کورني کي د شخړي ډير لامل کيږي

خبره بل طرف لاړه نشي

اخلاص يي د هغه د روخصتي تر وخته په کور کي پريښوده نواب ته يي هم کورني ډيره خوشحاله وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو چي مور يي د رنګ پوختنه وکـړه چي ولي داسي تک ژيړ اوختي يي پلار يي په غوسه وويل چي مسافر دي دومره خو به يي رنګ تغير کوي اما له اصلي کيسي هيڅوک هم نه وه خبر چي نواب څه نخري کوي

ذبير ته يي هم کورني خوشحاله وه خو خويندي يي بيا بيخي خوشحاله وي ځکه چي دوي پلار نه درلوده او همدا يو ورور يي وه

احمد ته هم همداسي ټول خوشحاله وه خو په دي ځل د قند اغا د زړه دربا دومره زياته وه چي د څنګ کس به يي هم اوريدله

د روخصتي شپي او ورځي تيريدلي دا ځل نو شريف هم غټ ځوان وه احمد لومړي له قند اغا څخه د خپل پلار ميراثي ځمکي واخيستلي په خپل نوم يي کـړلي بيا يي جان محمد کاکا ته په دهقاني ورکـړلي او ورته يي وويل چي د حاصلاتو پيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

به يي د دوي مور مريم ته ورکول کيږي جان محمد هم د هو په دود سر وخوزولو

دوي يو ځل بيا بيرته په سفر کي شول د روخصتي ورځي يي خلاصي وي ټولو حرکت وکړلو په طرف د ايران دا ځل په مرز کي بيخي ورته جنجال هم جوړ نشو ځکه چي دوي سره مينا ايراني جيلي وه چي په پاسپورټ باندي وتلي هم وه بيرته هيواد ته هم ننوتله

دا ځل بيا په ملګرتيا کي ډير فرق راغللو دا چي اخلاص په کور کي د مور او پلار له خوا جواب شوي وه چي نور به کور ته نه راځي نو له خپلي ښځي سره او يوه کوچني زوي خالد سره يي په طرف د جرمني مسافري ته پښی کيښودلي

نواب هم څو ځله له يو ښار څخه بل ښار ته مخدره توکي وړل چي پکي ډيري پيسي يي هم واخيستلي او ځانته يي جايداد ونيوه چي د رئيس له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا يي كورنۍ هم ايران ته رامنتقل شوه

يواځي ذبير او احمد پاتي شول په ملګـرتيا او اطاق كي دوي نو څلور كاله نور هم كار وكـړلو په دي موده كي تليفون هم كم كم رواج وه چي په دوي دوو كي هم يوه يي درلوده خو دا اصلا شريک وه دا تليفون

د دوي كورني هم موبايل درلوده خو بيا به يي په هفته كي يو ځل خبري كولي ځكه چي مصرف يي زيات وه

وروسته له څلورو كلونو څخه ذبير د خپل واده په خاطر تللو احمد| هم وويل چي زه به هم لاړ شمه

وبـښي دوستانو ناګـفته پاتي شو خو تكميل كومه يي

دا چي تير ځل ذبير تللي وه نو مور يي هم يوه پيغله ورته كـړي وه چيله پوشي يي هم وكـړه چي په دي محفل كي ورسره نواب اخلاص او احمد هم ونډه اخيستي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخت یې ځانونه هم پـه اتڼ کې ځانونه ستړي
کـړي وه
راځم خپلې کیسې ته
احمد دوي دا ځل هم ځانونه تیار کـړل چې کور ته
لاړ شي
خو دا ځل خالي لاس لاړل ځکه چې دا ځل یې د
واده پـه خاطر تللي وه او افغاني جامې اخیستلې پـه
کابل کې
همداسې وشول چې کابل ته ورسیدل نو ذبیر ځانته
او د کورنۍ نورو غړو ته یې جامې واخیستلې
یوه جوړه جامې یې احمد ته هم وکـړلې او یوه یې
کورتې هم ورته واخیستله
دوي کورته لاړل یو ځل بیا یې پـه کورنیو د جنت
زیري وشول
د دوي لـه راتګ نه درې ورځې وروسته د ذبیر
واده وشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځل نو بيخي ښه سم اتڼ او سيلونه وه احمد او نورو کليوالو دا ځل ځانونه داسي ستړي کړل چي بيخي خو د احمد ښه سمه تبه وه

خاله مريم چي دا وليدل نو

مريم خاله هم احمد ته يوه پيغله جيلي په نکاح کړله چي دا اصلا د وردګو ولايت د سيد اباد د مدين خيلو د‌ کلي وه خو په ننګرهار کي يي د بابا ځمکي د دوي پلار ته پاتي وي نو ځکه يي په ننګرهار کي استوګنه کوله

احمد کوژده وکړله او واده يي بيا دوه مياشتي وزنډاوه له دوه مياشتو وروسته يي واده هم وکړلو

احمد‌ هم داسي يو محفل جوړ کړلو چي ټولو کليوالو پکښي ښه سم خوند واخيستلو

دا چي احمد ډير کار کړي وه او د ځمکو پيسي يي هم په لاس کي وي نو ځکه يي واده هم ډير ژر وکړلو

دوي نو دا ځل په يوه غټه روخصتي راغلي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چي د ذبير واده وه او هغه هم چي په عاشقي کي واده کـړي وه نو غوښتل يي چي له خپلي ناوي سره ډير وخت واوسي

خو دا يي بيا نو بيخي وروستي راتګ وه له ايران څخه

ځکه چي په هيواد ي کارونه ډير وه او د ذبير يو اوښـي په حکومت کي لوړ پوړي چار واکي وه

هغه بيا ذبير ته يوه ګټه وظيفه پيدا کـړه چي بيا احمدا هم هغي ته واسطه شو احمد هم په کابل کي

ځانته کور ونيوه ځکه چي نشواي يي کولاي چي هره ورځ له کابل نه ننګـرهار او برعکس له هغه ځاي نه دلته

راشي نو ځکه يي کـډه کولو ته مجبور وه

له خپلي نوي ناوي سره يي خبره شريکه کـړه هغي نو بيا څه نشول ويلي ځکه چي يو خو ښه ښځه وه بل نو داسي هم نه کيدل چي احمد دي په هفته کي يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځل ووینې

مور يې هم وويل ځه زويه لاړ شه پخير لاړ شی

احمد شريف او سلوا د احمدا ميرمن کابل ته کډه

شول دوي نو چې راغلل د کابل په پنځمه ناحيه کې

چې دعوت پوهنتون ته نژدې په قلعه وزير کې يې

اصلي موقعيت وه يو کور کرايه کړلو

شريف يې هم د نوي باختر په خصوصي عالي ليسه

کې واچولو

د احمدا کارونه بيخي ښه مخته تلل

په د وخت کې د احمد دوي نوي ونه هم وغړيده چې

ناديه يې نوم پري کېښوده چې له ټولو ورته

شريف ډير خوشحاله وه

عمر کرار کرار همداسي تيريده نازيه هم غټيده بيا

نو شريف هم مکتب خلاص کړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نادیه نو نوي کودکستان یا هم وړکتون کي واچول شوه نازیه لا د دریو کلونو نه وه چي بله خور یي وشوه بیا نو د شریف لخوا ورته د نازیه نوم ورکـړل شو

مور یي سلوا هم خوشحاله وه ځکه چي د دواړو لور ګـانو یي نوم په یوه حرف شروع کیده

شریف هم اوس نو د پوهنتون محصل وه دي بیا په کابل پوهنتون کي د انجنیري سیول بخش ویلي چي له ماشومتوب څخه یي شوق او علاقه وه ورسره

نادیه هم په مکتب کي شامله شوه

اما نازیه بیا په کودکستان کي شامله شوه

احمد به اوس هره ورځ بدلیده کله به چي له وظیفي څخه راغللو نو چي اولادو به یي شوخي کوله یا به یي هم یو چیشي بي ځایه کـړلو نو احمد وار پري کاوه وهل به یي یوه ورځ به یي هم اولاد په کرار نه وه

هره ورځ به یي اولاد چیغیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتي کله کله به داسي ورځي هم راورسيدي چي احمد به په خپلي ميرمني سلوا هم وار کولو

دا ځل احمد بيخي بل ډول شوي وه

عمر نو همداسي تيريده يوه ورځ چي احمد له وظيفي څخه راغللو نو سلوا ورته وويل

چي احمد جانه يو څه مريضه يم که ډاکټر ته لاړ شو احمد خو په اوله کي په غوسه شو بيا يي وروسته وويل چي سمه ده

دوي چي ډاکټر ته تلل نو خپل اولادونه يي نازيه او ناديه دواړه شريف ته پريښودل

دوي خپله دوه په دوه ډاکټر ته لاړل

له يو څه مايعناتو وروسته ډاکټري يو ځل بيا په احمد د لور زيري وکړو چي د دي خبر په اوريدو سره دواړه احمد او سلوا سخت خفه شول سلوا خو لا په دي ډار کي هم لاړه چي ګواکي احمد دوهمه ښځه ونکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اما دلته بيا ډاکټري يو بل څه هم اضافه کړل چي
ستاسو غبرګوني يعني يو زوي او لور کيږي
چي د زوي د نوم په اوريدو سره دواړه خوشحاله
شول

د سلوا شپي او ورځي په همدغو غمونو او خوښيو
کي تيريدي

او احمد بيا هغلته په دفتر کي د رئيس لخوا ورته
هره ورځ ګواښونه کيدل چي سم کار نکوي
وظيفي ته په وخت نه راځي او همداسي نوري بهاني
يي ورته کولي

شريف هم وروستي سمستر خلاص کړلو دي هم
اوس فارغ کيده له سيول بخش د انجنيري څخه

احمد هم په يو لوي افتخار سره ټولو خپلوانو ته
زنګونه ووهل ويل يي ورته چي شريف له سيول
بخش د انجنيري څخه فارغ ده راتلونکي يکشنبه يي
فراغت ده

دوي ټولو ورته په لوړيو کي مبارکي ورکړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یي وویل چي سمه ده در به شو
د یک شنبي په ورځ ټول خپل خپلوان راغلل قند
اغا هم راغللو ټولو احمد ته ډالي او د غاړي یا هم
دستي ګلان راوړي وه په ټولو کي بیا خاله مریم د
شریف مور ډیره خوشحاله وه ځکه چي دا یي
لومړني اولاد وه چي په دومره غټه درجه کي
کامیاب شوي وه

د شریف فراغت هم په پوهنتون کي پخیر سره
ولمانځل شو ټولو ورته مبارکي ورکړه بیا شریف
هم خپل سرتفکیت واخیستلو او ټولو یو ځاي د کور
په لوري حرکت وکړلو

دلته نو د احمد یوه همکار خپل فرونر موټر احمد
ته ورکړي وه احمد هم داسي ګل پوش کړي وه
چي پوښتنه مکوه

شریف خو بیا داسي خوشحاله وه چي بیخي په جامو
کي نه ځایده
که له تاسو څخه چا د پوهنتون خلاص کړي وي بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کور په طرف راغلي وه دا خوند به مو حس کړي وي

له فراغت څخه دري ورځې وروسته مريم د شريف مور احمد ته وويل چي شريف به هم دمجردانو له تور ليست څخه لري کړو

احمد هم ومنله

مور يي وويل چي په کلي کي يي يوه جيلي يعني د انار ګل کاکا لور ورته خوښه کړي ده هغه به ورته وکړو

دا چي پورته مي هم وويل چي سلوا يوه هوښياره جيلي وه بيا زيرکه هم وه او دا چي شريف پخوا ورته ويلي وه چي ورينداار جاني په پوهنتون کي مي يوه جيلي خوښه ده نو ځکه يي خاله مريم چي اوس يي خواښۍ هم وه ورته وويل چي يو ځل له شريف څخه هم پوښتنه وکړي چي شايد يي بله جيلي خوښه کړي وي او يا بل څه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمدا هم وويل مور جاني سلوا ريښتيا وايي يو ځل به شريف سره هم خبره شريکه کړو

دا چي احمد خبر نه وه چي شريف عاشق شوي ده ولي بيا هم يو څه تجربه ورته وه چي که په خپله خوښه واده وشی نو دوه جوړي به ښ ی سره خوشحاله يي

مور يي هم په هو سره سر وښوررولو

شريف چي شپي راغللو نو اول يي مور ورسره خبره شريکه کړه

شريف له شرم څخه مور ته هيڅ هم ونه ويل بس صرف يي ورته وويل چي دوه ورځي وخت راکړي

په دي شپه چي ټول بيده شول نو شريف خپلي ورينداري سلوا ته وويل ورينداري ما خو مخکي هم ويلي وه چي د پوهنتون يوه جيلي مي خوښه ده چي د طب محصله وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ته مي مور ته ووايه کي يي راته وکړي
ځکه هغه ډيره ښه جيلي ده هغه جيلي هم په اصل
کي د کابل وه او په پروان دو کي يي استوګنه کوله
وريندارې يي هم په خندا سره وويل سمه ده لالا خو
ته يي اول نوم ووايه او بيا ووايه چي څنګه ده

شريف ورته وويل نوم يي ډُحل ده او بل په ښايست
کي له تا سره يو شانتي ده
شريف نه غوښتل چي وريندارة يي خفه شي نو ځکه
يي ورته وويل چي ستا غونټه ده
ويندارې يي هم وخندل بيا يي وويل نه نو يا به له ما
څخه ښکولي ويي يا هم بدرنګه
د شريف لږ څه خوله د بدرنګي په اوريدو سره
کږه شوه خو چي ځان يي خبرو ته جواړوه نو
وريندار يي سلوا پري پوه شوه چي هلک يي خفه
کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو شريف يي په غيږ کي کلک ونيوه ورته يي وويل ليونيه خفه کيږه مه ټوکه مي وکـړه پوهيږم چي خکلي ده

وريندارې يي دا ټپه ورته وکـړله

مئين مشي مينه بلا ده

په ښکلو ښکلو د هر چا مينه راځينه

د دي ټپي په اوريدو سره د شريف يوځل بيا خوله کـبږه شوه

وريندارې ته يي وويل مننه

بيا د شپي پخير وويل ځکه چي شپه ناوخته وه بيده کيدل او نور ټوله کورنۍ بيده وه صرف دوي دوه ويښ ول

کله چي سبا سهار د چايو وخت شو نو سلوا چي درگـرده يي د نازيه پياله ډکوله خوابښيي ته يي وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور جاني د شريف يوه جيلي خوښه ده هغه هم ډاکټره ده له دوي سره په يو پوهنتون کي وه اوس هغه هم فارغه شوي ده که دي زړه وي چي يو ځل ورشو

له دي خبري سره د شريف مخ تک سور شو

مور يي وويل اله توبه خدايه اوس مي زوي هم په پردو لورګانو پسي کرځي

احمد بيا مسکي هم شو چي ورور يي مئين شوي ده او ويي ويل دا خو ښه خبره ده چي مور هم يوه ډاکټره را واده کړو او هم يوه با سيواده ښځه وي

شريف هم نوره چي خبره را په سر شوه ويي ويل مور جاني ډيره ښه جيلي ده اصلا دکابل ولايت دي په پروان دو کي اوسيږی او بل ما له دغو وروستيو څلورو کلونو څخه پيژندلي ده

مور يي وويل چي سمه ده ستا چي خوښه ده زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درسره خوښه ه

شريف هم خوشحاله وه ولي په زړه کي په خوله يي هم د خوشحالي نښي نښاني معلوميدي خو دا چي نوره خبره غټه نشي خپله خوښه يي پټه کړي وه

بيا چي له کور څخه بيرون ووتلو نو ځل ته يي زنګ وکړو د خوښيی زيري يي ورکړلو او بيا يي ورته وويل چي مور مي تا ماته په نکاح کوي

او نن ماسپښين ته مرکه هم درته استومه

همداسي وشول د شريف مور ورېندار او خور يي شهناز سره له شريف چي يي کور ليدلي وه ورغلل

له يوه څه ځنډ وروسته چي بيرته د کور په طرف راتلل نو شريف بي له ځنډه له مور څخه پوښتنه وکړه چي څه يي وويل

دلته يي وريندارہ له مور څخه مخکي شوله

ورته يي وويل چي د نفري دي مور وايي چي يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځل بیا هم راتګ ته ضرورت شته ده یعني چي زموږ خوښه ده

شریف هم نو په اول کي یي له شرم څخه مخ تک سور شو بیا یي وویل چي سمه ده

د دوهم ځل دپاره هم د شریف مور او وریندار‌ه سلوا د ځحل دوي کره ورغلل

دا ځل یي ورته ویلي وه چي موږ باید هلک وګورو

دهلک له لیدلو وروسته یي ورته د جیلي ستن او تار ورکړي وه

شریف هم ډیر خوشحاله وه په لومړي سر کي یي ځحل ته زنګ وواهه او بیا دلته مخکي له دي چي شریف ورته مبارکي ورکړي ځحل له شریف څخه مخکي شوه په مبارکي کي بیا نو ځحل , شریف ته وویل چي له شریني سره دي مبارک وي دواړه په دی کار سره ډیر خوشحاله ول

بلاخره له شریف څخه یي وریندار‌ي سلوا  هم غټه شریني واخیسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریف هم چي اوس معاش اخیستلو نو وریندارۍ ته یي هم یو غټ توق د طلا واخیستلو

دا وخت نو سلوا هم امیدواره شوې وه

د شریف کوژده یي هم له ستني راوړلو ځخه شپږ ورځې وروسته وکړه

له کوژدي وروسته دُحل هم ځانته په یوه شخصي روغتون کي وظیفه واخیسته

د شریف له کوژدي ځخه وروسته د احمد وهل بیا په نادیه او نازیه دومره ډیر شول چي هیڅ مه وایه

هره ورځ به یي په یوه کوچني خبره هم په دغو دوو لور ګانو ګوزار کولو

هره ورځ به یي د ناز په ځاي وار وه

اوس یي نو اولاد ته بیخي مینه نه ورکوله بیخي یي ناز نه ورکولو بیخي هغه پخواني احمد نه وه مور یي هم همداسي هر کله به یي چي اولادونو شوخي کوله نو مور به ټنګ وار پري کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ورځ چي احمد لا په وظيفه کي وه سلوا ورته زنګ وواهه چي يو څه مريضه يم که کور ته راشي

احمد هم وويل سمه ده درغلم

کله چي احمد راغللو نو احمد سلوا او د احمد مور يو ځاي د روغتون په طرف لاړل

له يو څه ځنډ وروسته په احمد باندي د دوو اولادونو زيري وشو چي يو يي هلک او بله يي هم جيلي وه

احمد بيا هلک ته بيخي زيات خوشحاله وه

احمد له ډيري خوشحالي دا چي خداي پاک زوي ورکـړي وه او د خداي پاک د شکر د ادا کولو په خاطر يو لوي ختم د قران عظيم الشان ونيوه چي پکي ډيرو خپلو خپلوانو يي ونډه واخيستله

بيا يي نو د ختم په ورځ يو ښايسته نوم د هلک لپاره او يو هم د جيلي لپاره انتخاب کـړل چي د هلک نوم قنداغا انتخاب کـړو شکيب او د جيلي نوم بيا د سلوا خور يعني د احمد ښيني انتخاب کـړلو ناهيده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د احمد ښځینې ځکه دغه نوم انتخاب کړلو چې دوه مخکیني خورزي یې هم په همداسې حرفونو نومیدي
یعني نادیه ,نازیه او ناهیده
ډیر ښه نومونه دي پخداي
دري واړه په یو شانته

له دي وروسته بیا هم احمد په دغو دوو لورګانو یعني نادیه او نازیه باندي ګوزار کولو
نادیه نو اوس د شپږم او نازیه بیا د دویم ټولګي زده کوونکي هم وي
خو بیا هم اوس نو تاسو ته هم معلومه ده چي زموږ په هیواد کي کله چي یو کوچني ماشوم یو څه خرابي کوي نو هغه وهي
او یا هم چي نه بیده کیږي هغه ډاروي
چی دا دواړه کارونه د یوه ماشوم په مغز ډیر بد او منفي تأثیرات راولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

در حالیکه هغه ماشوم په خپل خیر او شر هیڅ نه پوهیږي چي دا مي په خیر کي دي او که نه دي خبره بل طرف نه وړمه راځم کیسي ته

د شریف له کوژدي دوه میاشتي وروسته یي واده هم ورته وکـړلو

چي له واده وروسته هم له احمد سره په یوه کور کي اوسیده احمد او شریف به سهار وختي خپلو دندو په طرف تلل ځحل چي نوي ناوي وه نو د یو کوچني وخت په خاطر یي په کور کي ناسته غوره کـړله

دا چي سلوا هم یوازي وه نو ځحل ته ډیره خوشحاله وه ځکه چي دي به هره ورځ په کور کي له سهاره تر ماشامه تنها وه خو اوس یي جوړه پیدا شوي وه ولي دا هم د یو کوچني مدت دپاره ځکه چي ځحل هم اجازه لرله چي خپلي دندي یعنې ډاکـټري ته لاړه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له يوي هفتي وروسته ذُحل هم د خپل کاري محل په طرف لاړه اوس نو ټولو يو ځل بيا د پخوا په شان خپل کار کولو ټول به خپلو د کار ځايونو ته تلل

ناديه او نازيه به هم هره ورځ ښوونځي ته تللي

د نادي اوس له طب سره بيخي زيات شوق وه ځکه چي کله به يي د کاکا ښځه يعني ذُحل د ډاکټري په چپن کي وليدله نو بيخي به يي زړه اوبه کيده يا به يي هم همدغه شيبه د خپلو سترګو په کيمره کي به يي ځان د ډاکټري په جامو کي ليده

هره ورځ به يي پلار ته ويلي پلار جانه زه به هم د کاکا د ناوي غونډي ډاکټره کيږم

پلار به يي هم ويلي افرين لوري هو بايد ډاکټره شي

ذُحل به هم تشويق کوله ځکه چي هغه هم پوه جيلي وه

که چيري اوسني حالت ته وګوري د چا يوه مړي وچه ډوډۍ هم نه درباندي لوريګي چي وه يي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوري طب خو پرېږده
چي ته دي ډاکتر شي
خير ژوند تيريده شکيب او ناهيده هم لويدل

بيا هغه خوا د شريف او د دُحل هم نوي ونه وغوړيده چي بيا د نادي له لوري ورته د صبغت الله نوم ورکـړ شو

په دي کي نو شريف هم سخت خوشحاله وه همداي يي پخواني ارمان وه چي له دُحل ځخه دي اولاد ولري چي الله پاک يي دا ارمان هم ورته پوره کـړلو

هره ورځ به اوس نو شکيب بيچاره هم د خپل پلار له لاسه ښـه سم وهل خوړل پلار به يي هره ورځ په اندکي خبره هم وهلو

شکيب دي حد ته ورسيده چي هره ورځ به يي الله ته زاري کولي چي يا الله کاشکي دي يا زه نه ومه پيدا کـړي او يا دي هم داسي پلار او مور نه راکولو هره ورځ به يي په چيغو تيريد هره ورځ به يي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندکي خبره هم وهل خوړل اخر بيچاره چي لويده
بيخي به ورته بل ډول فکرونه پيدا کيدل کله کله به
يي ځانته خيالي نړي جوړوله په دي نړي کي به
يي ځان يوازي احساسولو ځانته به يي ښه ژوند
ليدلو ځان به يي ډير بختور ليده خو چي له خيالي
نړي څخه به ووتلو خو هماغه پخواني غمونه به يي
وه او دي به وه

يو څو کاله به تير شمه دوستانو
اوس نو شکيب چي د احمد په زامنو کي مشر زوي
وه او هم يوازيني زوي وه د اوولس کالو په عمر به
وه
په دي وخت کی نادي هم پنځم کال د طب ويلي
نازي بيا اول سمستر د ژورناليزم او همچنان ناهيده
او شکيب په دولسم ټولګي کي وه
د شريف هم مشر زوي صبغت الله په يولسم
ټولګي کي وه اما بد بختانه چي الله پاک شريف

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته کوم بل اولاد ور نه کړلو دا وخت شريف هم له احمد څخه بيل شولو ځکه چي اوس بايد هر يوه ورور ځانته کور جوړ کړي وه دوي دوو ورونو هم همداسي

يوه ورځ چي احمد او سلوا د شريف دوي کور ته تلل په لاره دوي دوه په خپل شخصي موټر کي ول احمد له سلوا سره په قيصو کي ښه ګرم وه چي په دي کي يي لاري ته هيڅ فکر هم نه وه دوي دوو په دی کي خبري کولي چي بايد احمد خپل زوي شکيب ته کوژده وکړي چي بيا يي دا ارمان په زړه کي پاتي نشي

اما د يوي دقيقي په تيريدو سره همداسي وشول احمد خپل موټر له يوي لاري يا هغه لوي موټر چي پکي درانه بارونه وړل کيږي چي له خښتو ډکه وه ټکر وکړلو

لا يي دوي شفاخاني ته رسولي نه وه چي سلوا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل ژوند له لاسه ورکړلو

د احمد خو سينه له جلب د موټر سره لګيدلي وه او سر يي هم نو ځکه خو يي په موټر کي خپل ژوند له لاسه ورکړلو

تر ماشامه پوري د دواړو جنازي په روغتون کي ايښي وي بيا له ماشام نه وروسته چي کله کورته په راتګ کي سلوا او احمد ناوخته کړله نو نادي يي مور ته زنګ وواهه چي ولي يي ناخته کړه

چي کله يي زنګ ووهلو نو له دري څلور ځله تيريدو څخه وروسته موبايل اوکي شو اما له هغي خوا يو زنانه نازک غږ راغللو چي د نادي د زړه بيخي دربها زياته شوه

هغي ښځي لومړي غږ وکړلو الو څوک يي

دا د موبايل والا مو څه کيږي

او همداسي يي نوري پوښتني هم سر په سر وکړلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا نادي وویل دا مي د مور موبایل ده او تاسو څوک
یي مور مي چیره ده

نادي هم همداسي سر په سر څو پوښتني وکړلي
بیا نرسي جواب ورکړلو ستاسو مور او پلار
ترافیکي پېښه کړي ده اوس مهال په ... روغتون
کي دي که کولای شي نو ورته راشي

نادي هم په وارخطا غږ سره وویل سمه ده درځو

نادي اول شکیب ته وویل چي داسي پېښه شوي ده
بیا یي شریف کاکا ته زنګ ووهلو

اوس نو دري خویندي او یو ورور هم سترګي
سري ژاړي او هم د روغتون په لوري په جابکو
قدمون د روغتون لاره لنډوي

کله چي روغتون ته ورسیدل نو ګوري چي شریف
کاکا یي زوي یي صبغت الله او میرمن یي دُحل له
دوی څخه مخکي رارسیدلي دي

کله چي دوي نږدي راغلل نو شکیب پوښتنه
وکړه کاکا په مور او پلار مي څه شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې شريف او احمد له ماشومتوب څخه يو په بل
ګـران وه او هم يې د يو بل سره په ټول عمر کې
يوه کوچنې جګـړه هم نه وه کـړې

نو شريف د خپل ورور غم يې پـټ نشو کـړلای

له سترګـو يې اوښکې يې يو په بل پسې روانې
شوې

دلته نو ټول په ژړا شول

بيا يې له شفاخانې څخه د احمد او سلوا جنازه د کور
په لورې رهي کـړله په ټوله لاره کې هيڅا هم
خبره ونکـړه د ټولو له سترګـو يوازې د بې وسې
او بې کسې اوښکې تويدلې

کله چې کور ته لاړل شريف لومړې خپل تره ته
زنګ ووهلو چې داسې کيسه ده

بيا يې د خپلې فيس بوک پاڼې په ايډې يې د
جنازې خبر خپور کـړلو

له دې وروسته يې ټول خپل خپلوان خبر کـړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا سهار يي جنازه د ننګـرهار ته ورسوله

هغلته يي هم ټولو خپلو خپلوانو د دوي په جنازه کي اشتراک وکـړلو

نادیه او نازیه خو بیا تر کلنیک د کلي هم ورسیدل

دوي دوو خویندو دومره ژړل چي د دوي له ژړا سر به ټول انګـړ په چیغو سر شو تر ټول زیاد چي بیا خفه وه هغه ناهیده وه اما دي بیا ځان داسي کنترول کـړي وه چي پوختته يي مه کوه

ولي بیا هم

که الله دي نکـړي ستاسو کي د چا مور یا پلار مړ وي دا زور به مو لیدلي وي

شکیب خو بیا هم بد نه وه ولي چي کله به يي خویندي په ژړا کي ولیدلي نو خپل ځان به يي هم له کنترول څخه ووتلو

نادیه خو پخوا په هوش راغلي وه کور کي وه د وروستي ځل د پاره يي خپل مور او پلار په سپین کفن کي ولیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اما نازي بيا ونشو ليدلي

کلہ چي نازيه په هوش کي راغلله نو چي کور ته يي بوتلله ګـوري نه مور شته نه هم پلار نو په چيغو چيغو سر شوه په ژړا کي يي ويلي چيري دي مور او پلار مي ما هم يو ځل ورته يوسي يو ځل خو به مو پرايښي وه چي ما هم د وروستي ځل دپاره ليدلي وه

چي د نازي له چيغو سره يو ځل بيا ټول کور په چيغو سر شو

د جنازي دخِتم او خيرات له يوي هفتي وروسته دري خويندي او يو ورور بيرته خپل کور ته راغلل ولي دلته بيا هم د يوي اوږدي لپاره د خپل تره شريف په کور کي پاتي راغلل ځکه چي تره يي نه غوښتل چي وريري يي يا هم وراره يي په کور کي يوازي پاتي شي ولي د وخت په تيريدو سره بيا دوي هم خپل کور ته لاړل

يو خو د دعا په خاطر خلک ورته راتلل بل دا چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوي هم نه غوښتل چي له خپل کور نه بل ځاي لاړ شی

کله چي د مور او پلار د مرګ يي دري اونۍ تيري شوي نو ټولو د پخوا په شان خپلو پوهنتونونو او مکتبونو ته روان شول

چي دا کار به شکيب کولو لوړي به يي خپلي دوه مشري خويندي يعني ناديه او نازيه پوهنتون ته وړل او بيا به يي خپله همزولي خور يي ناهيده مکتب ته وړله چي له هماغه ځايه به خپله هم د مکتب په طرف تللو

غرمه به يي هم همدا کار وه

ولي مازديګر به بيا خپله او ناهيده يوځاي ده ژواک د ساينسي علومو مرکز ته تلل او هغلته به يي د کانکور اماده ګي هم ويله

د مور او پلار له مرګ يي يو کال وروسته د دواړو خويندو چي پخوا يي د مور او پلار په شتون کي کوژده کړي وي واده هم وکړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له یادو دي نه وځي دغه دوه خویندي یي د نادي په پوهنتون کي یو صنفي وه هغوي هم دوه ورونه وه او دا دوه خویندي یي هم مور او پلار په یوه کور کي واده کړلي

کوزده یي هغه وخت شوي وه اما واده یي د مور او پلار د مرګ په خاطر وروسته وزنډیده

خیر واده هم د دواړو خویندو په خوشحالي کي تیر شو ولي بیا هم چي مور او پلار یي مړه وه یو څه غم ورسره وه

له واده ورسته بیا ناهیده او شکیب په کور کي یوازي پاتی شول اما شکیب بیا نو یو غیرتي هلکه وه خویندي یي هم له ځان کمي نه کڼلي

هره ورځ به یي اوس دي تنها خور ته چي په کور کي وه ډالي ورته راوړلي

هره ورځ به یي خوشحاله ستاله کله به یي د نادي دوي کور ته بیوله او کله به یي هم هغه دوه ورته راوړلي خپل کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډېر کم وخت کي ناهيدي هم تغير وکـړلو دي نو اوس په کورس کي له يو ځوان سره مينه پيدا شوي وه

چي بيا هغه ځوان هم په دي مئين وه

کله يي چي د کانکور امتحان ورکـړلو نو بيا هغه ځوان او ناهيده دواړه د حقوقو پوهنځي ته کامياب شول اما هغه خوا بيا شکيب د پولي تخنيک سيول انجنيري ته کامياب شو

د شکيب هم له انجنيري سره په دي خاطر شوق وه چي کاکا يي هم انجنير وه او کله به چي شکيب کاکا د انجنيري په جامو کي ليده بيا به يي بيخي شوق زياتيده

که تاسو کي چا د خپلي خوښي پوهنځي ويلي وي په خپل شوق سره نو معلوم به وي چي څومره خوند لري

له څلورو سمسترو ويلو وروسته هغه ځوان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناهيدي په خاطر خپله مشره خور او مور مرکي ته ولیږل چي په دي کي ناهيده خبره وه چي خيبر به دوي ته مرکه لیږي اما شکيب بيا نه وه خبر له ليدلو او دوه دري ځله تګ را تګ وروسته شکيب وويل چي زه مي خپله خور هغه چاته ورکومه چي هغه يي خوښ وي

د دي خبري په اوريدو سره ناهيده ډيره خوشحاله شوه اما پښتو او پښتون ولي يي اجازه نه ورکوله چي شکيب ته دي ووايي چي همدغه ځوان مي خوښ ده

اما په پټه يي بيا نازي ته ويلي وه چي له همدي ځوان سره واده کوي

چي بيا نازي شکيب خبر کړلو او شکيب بيا د خيبر دوي کورنۍ ته د مبارکي په زيري ويلو سره د ناهيدي ستنه او تار ورکړل

دا چي ناهيده په شکيب ډيره ګرانه وه او شکيب به هم کله کله ويلي چي ته مي هم مور يي او هم خور

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځکه يي له دي سړي څخه د مهر يعني تويانه پيسي بيخي نه اخيستي ولي د هغوي په ټينګار سره يي بيا دوه لکه افغاني واخيستلي

شکيب خو ويلي چي زه د خپلي خور د ټول واده مصرف ورکومه ځکه چي هغه ته د پلار تقاعد هم ورکول کيده او دومره زياتي پيسي يي په دوو نفرو نشوي خوړلي

خو د هلک کورنۍ بيا کله منله هغوي همدا بهانه کوله چي موږ ته خپلوان پيغور راکوي وايي چي جيلي مو په موفته کي وکړله

د دي ځوان پلار هم په ... امريکاي شرکت کي رئيس وه نو ښه پيسه داره هم وه

دي ځوان بيا خپل د واده نيټه يوه مياشت وروسته تاکلي وه

د ناهيدي واده ته به يوه اونۍ پاتي وه چي ناهيدي شکيب ته وويل چي ورور جانه زه به هم تاته کوژده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکـړمه زما یوه صنفي ده په پوهنتون کي ډیره ښه
صادقه او دیني جیلي ده هغه به درته وکم نن به زه
او نادیه دوی په مرکه ورشو هغه به درته وغواړو

زه په دي ډاډه یم چي هغه به تاته راکـړي

اما شکیب بیا وویل چي زه واده نکوم

ناهیدي وویل ولي ورور جانه لیوني شوي یي

څنګـه واده نکوي

تاته به کور څوک کوي کار به څوک کوي جامي به
دی څنګـه وینځي

شکیب یي خبره پري کـړله

نه خور جاني دا هر څه زه په خپله کومه

نه غواړم واده وکـړم ځکه چي که دي په یاد کي وي
مورږ چي ماشومان وو نو مور او پلار به څومره
وهلو

هره ورځ به یي وار راباندي کولو

څومره به مو له ژوند نه زړه بد کیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

شايد چي د واده په كولو سره له ما نه هم داسي غلطي وشي

نه خوري نور به له دي خبري تير شو

او له تاسو ټولو هيله کوم چي واده وکـړه ځکه پيغمبري سنت دي اما دغه يو كار مكوي چي اولاد ووهي

ځکه چي

ماشومان خو په خپل خير نه پوهيږي

اما مور او پلار يي بايد ونه وهي

شكيب يو ځل بيا وويل

زه واده نکوم

پاي

کابل افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

2023/5/13

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**